# الانسان

مدنی سورة دی ۳۱ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ١

آیا انسان د خپل وجود په هغه مرحله( فکر نه کوی چې) دی یو بې ارزښته او بې نومه بې نښانه شی و؟

إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا
بَصِيرًا ٢

بیشکه چې مونږ، انسان( د نر او ښځې د نطفو) له اختلاط نه پیدا کړ تر څو یې وازمایو. بیا مو( له یوه شکل نه بل شکل ته په تدریجی توګه په یوه داسې کامل پوهیدونکی) اوریدونکی او لیدونکی انسان تبدیل کړ( چې د خپلې پوهې او استعداد په برکت له نورو حیواناتو نه کاملاً ممتاز او د شرعی احکامو په منلو او تطبیق مکلف دی).

إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ٣

بیا مو لاره وروښوده چې د شکر کوونکو لار نیسی او که ناشکری غوره کوی.

إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَاْ وَأَغۡلَٰلٗا وَسَعِيرًا ٤

مونږ د کافرانو لپاره ځنځیرونه، طوقونه او لمبو وهونکی اور تیار کړی دی.

إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ يَشۡرَبُونَ مِن كَأۡسٖ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ٥

بې له شکه چې نیکان به د شرابو ډکې پیالې وڅښی چې کافور ورسره ګډ شوی دی.

عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفۡجِيرٗا ٦

( یعنی) د هغې چینې اوبه چې د الله تعالی خاص بندګان به یې څښی، او د دوی له خوښې سره سم به ترې ویالې په هر لور بهیږی.

يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ٧

(د الله تعالی خاص بندګان هغه دی چې) خپل نذرونه په پوره توګه اداء کوی، او له هغې ورځې ډارېږی چې شر
(او ضرر) به یې هره خوا خپور وی.

وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ٨

او د خپلې اړتیا سره سره،(د الله تعالی د رضا لپاره) مسکین، یتیم او اسیر ته خواړه برابروی.

إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ٩

( او وایی:) مونږ یوازې د الله تعالی د خوښی لپاره تاسو ته خواړه درکوو، او په مقابل کې یې درنه هیڅ
معاوضه او شکریه نه غواړو.

إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوۡمًا عَبُوسٗا قَمۡطَرِيرٗا ١٠

مونږ د خپل رب له هغې ورځې ویرېږو، چې له ویرې او کړاو نه ډکه ده.

فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمِ وَلَقَّىٰهُمۡ نَضۡرَةٗ وَسُرُورٗا ١١

نو الله تعالی دوی د هغې ورځې له شره وژغورل او تازګی او خوښی یې ور په برخه کړه.

وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةٗ وَحَرِيرٗا ١٢

او د هغه صبر په برکت به یې چې دوی( د دین د پرمختګ او حوادثو په مقابل کې) درلود، په جنت او
وریښمینو کالیو ونازوی.

مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۖ لَا يَرَوۡنَ فِيهَا شَمۡسٗا وَلَا زَمۡهَرِيرٗا ١٣

هلته به یې په تختونو ډډې وهلی وی، نه به د لمر زوروونکې ګرمی وینی، او نه به د ژمی سخته او له کړاو
نه ډکه یخنی.

وَدَانِيَةً عَلَيۡهِمۡ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتۡ قُطُوفُهَا تَذۡلِيلٗا ١٤

او د جنت د ونو سیوری به پرې راخوړند او میوې به یې کاملاً په واک کې وی.

وَيُطَافُ عَلَيۡهِم بِـَٔانِيَةٖ مِّن فِضَّةٖ وَأَكۡوَابٖ كَانَتۡ قَوَارِيرَا۠ ١٥

او د سپینو زرو لوښی او ښیښه یې ګیلاسونه به پرې ګرځول کیږی.

قَوَارِيرَا۟ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ١٦

داسې ګیلاسونه، چې د هغوی لپاره به په خاصه توګه جوړه شوی وی.

وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ١٧

او په هغو جامونو کې به څښناک کوی چې اوبه یې له زنجبیل سره ګډې دی.

عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ١٨

(دا به د جنت) د هغې چینې( اوبه وی چې) سلسبیل نومیږی.

۞ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ١٩

او د دوی شاوخوا به( د خدمت او هرکلی لپاره) داسې همیشنی زلمیان ګرځی راګرځی چې ته به وا، خورې
ورې مرغلرې دی.

وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ٢٠

او چې هر خوا ګورې، نعمتونه او لویه پاچاهی به دې تر سترګو کیږی.

عَٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ ۖ وَحُلُّوٓا۟ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَىٰهُمْ
رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ٢١

د شنو نازکو او پریړو وریښمو کالی به یې اغوستی او د سپینو زرو وبنی به یې په لاسو وی، او رب به یې
وربانډې پاک شراب هم وڅښی.

إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ٢٢

(ورته به ویل کیږی) دا ستاسو د نیکو کړنو بدل دی او بیشکه چې ستاسو نیکی هڅې( د الله تعالی په دربار
کې) منل شوی دی.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ تَنزِيلًا ٢٣

( ای پیغمبره!) بې له شکه چې مونږ قرآن تاته په تدریجی توګه نازل کړی دی.

فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ٢٤

نو د خپل رب فیصلې ته صبر وکړه او د هیڅ ګناهکار یا کافر اطاعت مه کوه.

وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ﴿٢٥﴾

او سهار ماښام د خپل رب ذکر کوه.

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلٗا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾

او د شپې يوه برخه هم ورته په سجده تيروه او په اوږده شپه کې يې ثنا او پاکي بيانوه.

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمٗا ثَقِيلٗا ﴿٢٧﴾

بې له شکه دا( ګناهکاران او ناشکران) له دې فاني دنيا سره ډيره مينه لري( او پوازې د د نيوی ګټو لپاره په منډو ترړو بوخت دی) خو هغه سخته ( ويرووونکی) ورځ يې هيره کړې ده.

نَّحۡنُ خَلَقۡنَٰهُمۡ وَشَدَدۡنَآ أَسۡرَهُمۡۖ وَإِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَآ أَمۡثَٰلَهُمۡ تَبۡدِيلًا ﴿٢٨﴾

هغوی، مونږ پيدا کړی او د بدن بندونه او مفصلونه مو ورله( له اعصابو او عضلاتو سره) ټينګ او پياوړی کړی دی. او چې کله مو اراده وشی( د هستی له صفحې به يې ليرې کړو او) د هغوی په ځای به بله ډله ( چې تابع او غاړه ايښودونکی وی) راوړاندې کړو.

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ﴿٢٩﴾

يقيناً چې دا( قرآن) نصيحت او خبرداری دی، نو که څوک غواړی( د هغه  په وسيله) دې خپل رب ته د تقرب لاره ولټوی.

وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٣٠﴾

او تاسو( د تقرب لاره ) نشئ موندلی تر څو د الله تعالی اراده(او مرسته) درسره مل نه وی. يقيناً چې الله تعالی( په ټولو چارو) پوه او د حکمت څښتن ذات دی.

يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمَۢا ﴿٣١﴾

او هر چاته چې وغواړی پخپل رحمت کې يې شاملوی او د ظالمانو لپاره دردوونکی عذاب تيار شوی دی.

« تمت سورة الانسان بفضل الله و رحمته».

===================